خپلو همځولو ته شېرینه وایي
سر ته یې خبر شه خو باور مې نشي
رغېږي نه د پشکال لېوني

پوزه دې پرې نه کړې د قام لېونیه
درنه په لاره تېرېدلې نه شم
ته د واده نه پس هم سمه نه شوې

پېغلو وېل مونږ ته ګناه نشته دے
چې د خپل کور ورونه بند شي په چا
نو خا غا چا سره لار اخلي



یې د نازونو لویاې شېرینې
ځان چیاله درنه کړي په لاس ...
ګني رنګونه به دې ټول والوځي

وانې کیاې دې په سر سترګو منم
مانه باد وبري غلطي شوي دي
خو لاس چې مات شي خپلې غاړې له ځي

میاندې په داسې پښتنو بوري شه
پاسې پردې تور سرې او تختوي
بیا یې د خوښندو خوک تپوس نه کوي

یوه سپځلې تجربه مې اوشوه
اوس په کم اصلو اعتبار نهٔ کوم
څاوره د لوے ډېرانه اخلمه زهٔ

ستا د اوږدو زلفو بلا واخلمه
د ژوند طوفان کښې په چا ملامهٔ تره
مار هم پردي لاس باندې نهٔ وژنې څوک

د محبت له عظمتونو نه زار
چې د زامنو ئې ودونه جوړ شي
میاندې په سپین سر ګډاګانې کوي



واڼې له لور او خور تپوس کوي څوک
کوځې چې هر څهٔ کوځ، ستاسو خوښه
زهٔ د پردي ډېران څخله يمه

ماتېږي کانړي تل په کاڼي باندې
زهٔ څاروګے چاته وهلے نهٔ شم
ورکړې ما نهٔ دي ډېران له لتې

زور مې په ځائے دے خو غور ځنګ نهٔ کوم
ګټې په ما باندې د ښار مېړمنو
نن د ګټانو غوښې هم اوخوړې

وړې مبارک ورته د زړه داوه شه
خو ستا د سپين سر نه قربان شم ابدي
ځکه له ميانده و نه چې شوکوي

هر څه چې وو خو تا پاه چوړي نه کوه
راته په شا چا تپوسے ئې جوړ
داسې چې خولې پورې دي ټيچ اوترو

درسره دا خبره منمه مسئله
که زړهٔ دې تور دے له دنيا ناهله
نو بيا د کور سفيدي څلله کوې



څوک د فطرت لارې نيولے نهٔ شي
زخم چې سېوا شي تا ته ښهٔ پته ده
ګړانۍ شهلا، آتش فشان شي غرونه

نن چې مې شونډې ورته اوچيچلې
وښل ئې خپل علاج په وخت وې پکار
ستا په مازغو کښې جوړ چينجے شوے دے

څوک ترېنه سمه ورځ بيدلے نهٔ شي
راښجهٔ ئې اوښکو په رخسار خوارهٔ کړهٔ
ښکارې چې بيا چاته اوبهٔ خړوي

